بانک The Bank
میاشتنی | Monthly | ماهنامه
۱۹۸ ګڼه - ۱۴۴۵ جمادي الثاني - ۱۴۰۲ مرغومی

# په تیرو ۳ کلونو کې د افغانستان د بانکي سکتور لوړې ژورې

صفحه ۲۳

## ثبات امنیتی زمینه ساز ثبات اقتصادی است

## Money Laundering and Its Economic Hazards



# په ټولو سوداګریزو او
# اقتصادي راکړو
# ورکړو کې د افغانۍ
# سم کارول ملي
# ارزښتونو ته زموږ
# ژمنتیا څرګندوي.



# بانک

## لړلـــــــیک / فهرست


| لړلـــــــیک / فهرست | مخ |
|---|---|
| د افغانستان بانک د مرکز او جنوب ختیځ زون څخه راټول شوي بانکنوټونه وسوځول | ۱ |
| د افغانستان بانک دستاورد های عمده شش ماهه سال ۱۴۰۲ خویش را از طریق... | ۲ |
| د افغانستان بانک د شپږ میاشتنیو کړنو او لاسته راوړنو راپور | ۴ |
| تحولات در خدمات امور مالی اسلامی | ۹ |
| په اسلامي بانکوالۍ کې د شرعي اصولو د نه رعایتولو خطر او مدیریت | ۱۱ |
| افتتاح نمایندگی د افغانستان بانک در ارگون و دند پتان | ۱۴ |
| ثبات امنیتی زمینه ساز ثبات اقتصادی است | ۱۵ |
| صرفه جویی در آب های زیرزمینی با استفاده از سیستم آبیاری قطره ای | ۱۸ |
| اقتصادي خبرونه | ۲۱ |
| په تېرو درېو کلونو کې د افغانستان د بانکي سکتور لوړې ژورې | ۲۳ |
| Press Conference: DAB Shared its Achievements With Public | ۲۷ |
| Money Laundering and Its Economic Hazards | ۳۱ |



د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد او مفتي عبدالله آخندزاده

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسوول مدیر: انور الله حیات

خبریال: سید خالد خالقیار

ویزاین: خالد احمد فیضي

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسوول: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کال: اوولسم



پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

وېب پاڼه: www.dab.gov.af



د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube twitter.com/AFGCentralbank www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک د مرکز او جنوب ختیځ زون څخه راټول شوي بانکنوټونه وسوځول







۱۴۴۵ د جمادی الثاني ۶ – د افغانستان بانک په راکړو ورکړو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په پار د افغانستان بانک د قانون د ۳۹ او ۴۲ مادو او اړوندې کړنلارې سره سم د ۱،۲۱۸،۴۳۶،۰۰۰ (یو میلیارد دوه سوه اتلس میلیونه څلور سوه شپږ دیرش زره) افغانیو په ارزښت د افغانۍ زاړه بانکنوټونه وسوځول. دا بانکنوټونه د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري په مشرۍ د ګمارل شوې پلاوي تر څارنې لاندې له کره شمېرنې او کنټرول څخه وروسته وسوځول شول. په دې بانکنوټونو کې د (۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰) افغانۍ انواعې شاملې وې چې له مرکز او جنوب ختیځ (ګردیز) زونونو څخه راټول شوي وو.

د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري وویل چې افغانۍ زموږ ملي هویت دی او له هېوادوالو څخه یې وغوښتل چې افغانۍ بانکنوټونه په غوره توګه وساتي او د ژر خرابېدو څخه یې مخنیوی وکړي. همداراز، هغه زیاته کړه چې د افغانیو د ژر زړېدو لاملونه د بانکي کارتونو نه کارول او د ځینو هېوادوالو لخوا په غوړو او ککړو لاسونو د پیسو شمېرل دي.

باید وویل شي چې په دې پروسه کې د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي ملا محمد آخوند او د افغانستان بانک د بانکي عملیاتو لوی آمر ښاغلي عبدالواحد جبارخیل هم ګډون درلود.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک په راکړو ورکړو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه وخت په وخت د افغانۍ زاړه بانکنوټونه له بازار څخه راټولوي او په بدل کې یې هېوادوالو ته نوي بانکنوټونه وېشي او د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې مندرس بانکنوټونه سوځوي.

# د افغانستان بانک دستاورد های عمده شش ماهه سال ۱۴۰۲ خویش را از طریق کنفرانس مطبوعاتی حضور مردم شریک ساخت




۱۳ جمادی الثانی ۱۴۴۵- د افغانستان بانک کنفرانس مطبوعاتی را پیرامون معرفی دستاورد های عمده شش ماه نخست سال ۱۴۰۲ خویش در تالار کنفرانس های خود برگزار نمود. این دستاورد ها در قالب گزارش کوتاه بگونه مقایسوی ترتیب یافته بود که بیانگر بهبود در همه شاخص ها بوده و با ارائه آمار و ارقام از شش ماه نخست سال ۱۴۰۰ و ۱۴۰۱ با ۱۴۰۲ مستند سازی شده بود.

محترم هدایت الله بدری سرپرست د افغانستان بانک با ارائه سخنرانی افتتاحیه ضمن ابراز امتنان از حضور صمیمانه رسانه ها و همکاری آنها طی دو سال گذشته در عرصه اطلاع رسانی به مردم گفت که جای خرسندی است که آمار موجود در گزارش امروز پیرامون تطبیق موثر سیاست های پولی و سکتور بانکی که خدمت

رسانه ها و از طریق آنها به مردم شریف کشور قرار داده می شود، بصورت تدریجی بهبود قابل ملاحظ یافته است.

محترم بدری ارزش افغانی در مقابل اسعار، کاهش انفلاسیون به حد مطلوب، بهبود در عملکرد سکتور بانکی، ترویج بانکداری اسلامی، توسعه سیستم های تادیاتی و تکنالوژی معلوماتی، چاپ بانکنوتهای افغانی و عرضه آن در بازار که در مقابل بانکنوتهای مندرس از بازار جمعآوری و حریق گردیده را از جمله دستاورد های مهم بانک عنوان کرد.

در قسمت دیگر این کنفرانس مطبوعاتی محترم احمد جواد سداد آمر عمومی سیاست پولی پیرامون راهکار های مهم در پیوند با افزایش ارزش افغانی در مقابل اسعار صحبت نموده، تصریح کرد که نرخ مبادله افغانی در مقابل دالر امریکایی در شش ماه اول سال ۱۴۰۲ نسبت به عین دوره سال قبل ۹.۷۴ در صد تزئید ارزش نموده است که خوشبختانه در مقایسه با پولهای تعداد زیادی از کشور های منطقه و شرکای تجارتی افغانستان از ثبات نسبی بهتری برخوردار است.


محترم سداد همچنان افزود که این رقم با توجه به آخرین ارقام که بدسترس ما قرار گرفته ازین بیشتر بهبود یافته، طوریکه سنجش ارزش افغانی در مقابل دالر امریکایی از آغاز سال تا ۴ جدی که فقط دو روز قبل از نشر این گزارش می باشد، حدود ۱۹.۳ در صد افزایش داشته است.

در ادامه این کنفرانس مطبوعاتی محترم احمد ظاهر ناصرزی آمر عمومی نظارت از موسسات مالی غیر بانکی پیرامون وضعیت سکتور مالی غیر بانکی ارائه معلومات نموده و میکانیزه سازی فعالیتهای صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی را برای بهبود این سکتور مهم عنوان نمود.

محترم ناصرزی پیرامون شرکتی سازی صرافی ها و عرضه کننده گان خدمات پولی گفت که این تصمیم به منظور سلامت و شفافیت سکتور یاد شده با وضع شرایط جدید و تغییر ساختار حقوقی مدنظر گرفته شده که بر مبنی آن؛ تمام جواز های انفرادی لغو و تا اکنون تقریباً بیش از ۱۰۷۶ جواز شرکت صرافی و خدمات پولی درکشور صادر گردیده است. همچنان، شرکت های یاد شده حدوداً ۳۸۹ نمایندگی ایجاد نموده اند. منبعد صرافی ها و خدمات پولی منحیث نهاد مالی غیر بانکی با داشتن سیستم الکترونیکی و با رعایت معیارهای ملی و بین المللی فعالیت های صرافی و خدمات پولی را فراهم می نمایند.

در بخش دیگر این کنفرانس محترم احسان الله متصور معاون آمریت عمومی نظارت بانکها پیرامون ثبات و سلامت سکتور بانکی صحبت کرده گفت که رهبری د افغانستان بانک برای استحکام سکتور بانکی جلسات متعدد تخنیکی را با شرکای داخلی و خارجی ترتیب داد، مذاکرات موثری را در راستای رفع محدودیت ها و فراهم آوری تسهیلات لازم به مردم راه اندازی نمود، متحدالمال های مفید را به بانکهای تجارتی صادر کرده و روند های نظارت از اجراآت سکتور بانکی را بطور مکرر انجام داده و تحکیم بخشید که منتج به رفع تدریجی محدودیت ها روی سپرده های مردم شد.

باید خاطر نشان ساخت که این پایان کار نیست و د افغانستان بانک تلاش دارد تا وضعیت بانکهای کشور را به حالت نورمال درآورده و سکتور بانکی را به یکی از سکتور های موفق برابر با معیار های جهانی مبدل کند.




# د افغانستان بانک د شپږ میاشتنیو

## کړنو او لاسته راوړنو راپور

وروستۍ برخه

**د اسلامي بانکوالۍ پراختیا**

د دې په پام کې نیولو سره چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی او خلک یې په سوداګریزو، اقتصادي او بانکي معاملو کې له سود (ربا) پرته معاملې ترسره کوي، اسلامي بانکوالي یوه بنسټیزه اړتیا وه چې د افغانستان بانک ورته ژمنتیا درلوده او د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا په برخه کې یې چټک ګامونه پورته کړي دي. تر دې مهال د کوچنیو پورونو یو بانک په بشپړه توګه اسلامي شوی او د هېرڅر به څو نور بانکونه هم په بشپړ ډول

اسلامي بانکوالۍ ته واړول شي.

- له اسلامي بانکوالۍ او شرعي اصولو سره سم د افغانستان بانک د کړنو لپاره د پلان جوړول؛
- بشپړ اسلامي بانک ته د کوچنيو پړاوونو د يو بانک بدلول؛
- داسلامي بانکوالۍ د دودلو او د اسلامي هېوادونو له تجربو څخه د ګټې اخيستنې په موخه په بحرين کې د اسلامي مالي ادارو د محاسبې او پلټنې د مؤسسې د نړيوالې اداري (AAOIFI)سره د هوکړې ليک لاسليکول؛
- د سوداګريزو بانکونو د مقرراتو، کړنلارو او پاليسيو کتل؛
- د مضاربې د پانګه ييزو پانو د مسودې ترتيبول؛
- د مشارکې محصول د لارښود ترتيبول؛
- د متناقصې مشارکې د لارښود ترتيبول؛
- د اجارې محصول د لارښود ترتيبول؛
- د صکوکو او تکافل مديريت لپاره د داخلي کړنلارې ترتيبول؛
- د علومو اکاډمۍ لخوا د افغانستان بانک د تعديل شوي قانون کره کتنه، تبصره او د نظرونو شريکول؛
- له ساحې دننه ځارنې ترسره کول؛
- له ساحې بهر ځارنې ترسره کول؛

د اسلامي بانکوالۍ د پراختيا په برخه کې د افغانستان بانک نورې لاسته راوړنې دي.

## د غير بانکي سکتور کړنې:

غير بانکي سکتور د بانکي سکتور ترڅنګ ځانګړې ارزښت لري او د صرافيو، پولي خدمتونو وړاندې کوونکو، د برېښنايي پيسو د مؤسسو، د مالي اجارې د مؤسسو او د اداينې د مؤسسو کړنې رانغاړي. د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمريزو کلونو په لومړيو شپږو مياشتو کې د دې سکتور د کړنو د تنظيمولو او ميکانيزه کولو لپاره د پام وړ اقدامات ترسره شوي دي.

د يادونې وړ ده چې د افغانستان بانک په ۱۴۰۰ لمريز کال کې هم د انفرادي صرافيو او پولي خدمتونو د کړنو شرکتي کولو لپاره هڅې کړې وې ، خو د پام وړ پايله يې نه درلوده. دا هلې ځلې او کوښښونه د ۱۴۰۱ لمريز کال په اوږدو کې هم دوام درلود، خو اغيزناکتيا يې د اسلامي امارت تر واکمنېدو وروسته زياته شوه چې د افغانستان بانک رهبري د صرافانو او اړوندو ادارو له استازو سره په بشپړې همغږۍ دا پروسه په پوره بريالېتوب پيل کړه او اوس مهال د ټول هېواد په کچه د صرافيو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو لپاره د جوازونو ورکړه دوام لري.

لاندې ګراف د صرافيو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو لپاره د شرکتي جوازونو صادرول ښکاره کوي:





## اداينې


د افغانستان بانک د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ هجري لمريزو کلونو په اوږدو کې په ترتيب سره د اداينو په برخه کې د پرمختګ شاهد دی. معلومات ښيي چې دې بانک د ۱۴۰۰ لمريز کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ۸۹۹۵ معاملې، په ۱۴۰۱ لمريز کال کې

۳۳۲۵۳ او په ۱۴۰۲ لمریز کال کې ۴۳۵۲۶ معاملې ترسره کړې دي.

لاندې ګراف د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د ICSS له لارې د معاملو بهیر ښکاره کوي:




لاندې ګراف د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د ICSS له لارې معاملې ښکاره کوي:



د معلوماتو پر بنسټ د ۱۴۰۰ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په ټولیزه توګه ۱۹۱،۰۰۴ معاملې چې ټولیزه ارزښت یې ۲۳،۹۶۲،۴۸۰،۴۳۵ افغانی کېږي، د اسیکوډا سیستم کې ثبت شوي. دا شمېره د ۱۴۰۱ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۲۱۹،۱۰۹ معاملو ته رسېږي چې ټولیز ارزښت یې ۳۱،۹۷۷،۸۵۸،۷۳۲ افغانی کېږي او په همدې ترتیب د ۱۴۰۲ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په دې سیستم کې ۲۷۱،۷۷۰ معاملې چې ټولیز ارزښت یې ۳۲،۲۶۷،۳۶۶،۰۸۰ افغانی کېږي، ثبت شوي دي. په دې سیستم کې ثبت شوي معاملې په یادو شوو دورو کې په تدریج سره د زیاتو پرمختګونو شاهدي ورکوي.

لاندې ګراف د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمریزو کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د اسیکوډا سیستم معاملې ښکاره کوي:



## بشري سرچینې او معلوماتي ټکنالوژي:

د دې په پام کې نیولو سره چې بشري سرچینې په هر سازمان کې د ودې، اغیزناکتیا او ګټورتیا لامل ګڼل کېږي او د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې خورا ډېر ارزښت لري، د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي دا اصل په جدیت سره رعایت کړی او د دې بانک مسلکي او تجربه لرونکي کادرونه یې ساتلي او هغوی لپاره یې ښې کاري زمینې برابرې کړې دي. د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمریزو کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې په ترتیب سره د بشري سرچینو او معلوماتي ټکنالوژۍ په برخو کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي دي.

په دې موده کې د افغانستان بانک تشکیلاتي جوړښت، بستونه، دندې او پالیسیانې کتل شوي، د بشري سرچینو لپاره درې کلن

ستراتیژیک پلان جوړ شوی، د بشري سرچینو کړنلاره تعدیل شوې او د پر وخت او غوره خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د افغانستان بانک په ټولو نمایندګیو کې د حاضرۍ برېښنايي ډیوایسونه فعال شوي دي.

همدارنګه د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ برخې د ۱۴۰۲ کال د لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې د بشري سرچینو لپاره داسې یو ماډیول (سیستم) جوړ کړی دی چې د دې بانک د بشري سرچینو د ګمارنې پروسه یې الکترونیکي کړې ده. د دې ماډیول پر مټ د افغانستان بانک د ګمارنې ټوله پروسه د بست له اعلان څخه بیا تر ګمارنې پورې په برېښنايي ډول تر سره کېږي.

همدا ډول د دې بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ مسلکي کادرونه توانېدلي دي چې د افغانستان اسلامي امارت تر فتحې وروسته یو شمېر هغه سیستمونه چې د نړیوالو لخوا پرې بندیزونه لګول شوي وو، له سره ورغوي او په عملي چارو کې ترې ګټه واخلي. د دې سیستمونو له ډلې د ACSS/ICPSS څخه یادونه کولای شو. دا سیستمونه د افغانستان اسلامي امارت له فتحې وړاندې د بهرنیو کمپنیو له لوري د څو میلیونه امریکايي ډالرو په لګښت جوړ شوي وو، خو د افغانستان اسلامي امارت تر فتحې وروسته د نړیوالې ټولنې لخوا پرې بندیزونه ولګول شول.

له نېکه مرغه دا سیستمونه د دې بانک د مسلکي کادرونو لخوا بیا رغول شوي چې له بیا رغونې وروسته دا سیستمونه د افغانستان بانک په ملکیت کې راغلي او په دې سیستمونو هیڅ ډول اضافي لګښت نه دی راغلی او تر پخوانیو سیستمونو څو برابره ښه شوي دي.

## د حقوقي او څارنیزې ادارې پیاوړتیا

د دې په پام کې نیولو سره چې د چارو د لا ښه والي او تنظیمولو لپاره د قوانینو او مقرراتو پلي کول په هره اداره کې ډېر اړین دي، د افغانستان اسلامي امارت له فتحې وروسته د افغانستان بانک اړ شو چې حقوقي زمینې او مقرراتي اډانه برابره کړي. په دې برخه کې د دین او شرعیت له پلوه د ټولو قانوني سندونو او مدارکو د بیا کتنې لپاره کمېسیون وټاکل شو. دې کمېسیون د افغانستان بانک د قوانینو، مقرراتو، لوایحو او کاري کړنلارو ټول مواد په بېلابېلو برخو کې مرور او نهايي کړي چې اوس مهال په بشپړې روڼتیا سره رعایت او پلي کېږي.

## معلوماتو ته لاسرسي

د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی د هېواد د اقتصادي ودې او غوړېدلو په برخه کې د اړیکو او رسنیو په رول باور لري او د روڼتیا او حساب ورکونې اصل ته درناوی کوي. په همدې موخه یې د کار له پیل څخه تر اوسه پورې د هېواد له رسنیو سره اغېزناکه کاري اړیکې درلودلې او د رسنیو له لارې یې د افغانستان شریف او باعزته خلک د افغانستان بانک له اجرااتو او لاسته راوړنو خبر کړي دي او له هیڅ ډول معلوماتو یې چې د خلکو د پوهاوي لامل کېده او د هېواد په ګټه وو، دریغ کړی نه دی.

د ۱۴۰۰ لمریز کال په اوږدو کې معلوماتو ته لاسرسي او له رسنیو سره اړیکې محدودې شوې وې، خو د افغانستان اسلامي امارت په بیا ځلي واکمنېدو سره د ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمریزو کلونو په اوږدو کې معلوماتو ته لاسرسي زیاته شوې او له رسنیو سره رغنده اړیکې رامنځته شوې دي.

په دې موده کې د افغانستان بانک له ملي او نړیوالو رسنیو سره د بېلابېلو مالي او بانکي موضوعاتو په اړه ژوندۍ مرکې، خبري کلیپونه او رسنیز مطالب شریک کړي دي او له اکاډمیکې ټولنې

سره د اړیکو د پیاوړتیا په موخه د هېواد له شرایطو سره سم د معقولو تګلارو د طرحې لپاره بېلابېلې غونډې ترسره کړې دي.

په دې موده کې د افغانستان بانک د عامه پوهاوي د پروګرامونو په جوړولو سره توانېدلی دی چې پر بانکي سکتور د باور جوړونې په برخه کې یې ساري ګامونه پورته کړي. د افغانستان بانک مشرتابه د هېواد د شمال او شمال ختیځ، سویل او سویل لویدیځ زونونو ته سفرونه وکړل او د افغانی د دودولو او بانکنوټونو د ساتنې په موخه له ولایتي چارواکو، د سوداګریزو بانکونو له استازو، قومي مشرانو، متنفذینو، سوداګرو، صرافانو او عامو خلکو سره بېلابېلې غونډې ترسره کړې.

همدارنګه د افغانستان بانک توانیدلی دی چې د اکاډمیکې ټولنې، دولتي او نادولتي ادارو له استازو سره د افغانستان بانک د دندو، مسئولیتونو، افغانۍ د دودولواو داسې نورو برخو په اړه د عامه پوهاوي بېلابېل پروګرامونه ترسره کړي، په دې موده کې د افغانستان بانک وتوانید چې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د مساجدو او منبرونو له لارې د بانکنوټونو د ساتنې او افغانۍ د دودولو په برخه کې خلکو ته د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره کړي.

وروستی خبره:

د وروستي خبرې په توګه وړ بولو چې له خپلو ټولو درنو هېوادوالو څخه د زړه له کومې مننه وکړو چې د افغانستان بانک څخه یې د بانکي سکتور د بیا رغونې په برخه کې بشپړ ملاتړ وکړ او اجازه یې ور نه کړه چې له یو شمېر ورانداوینو سره سم د افغانستان بانکي سکتور له ستونزو سره مخ شي.

د هېواد د رسنیو درنو استازو هم د افغانستان بانک په اړه د کره، پر وخت او باوري خبرونو د خپرولو له لارې له موږ سره مرسته کړې چې نشو کولای د هغوی پر ګټور رول سترګې پټې کړو او له دې لارې غواړو چې له هغوی څخه هم مننه وکړو. همدارنګه د افغانستان بانک د سیاستونو ذینفع شریکانو د هېواد دننه او بهر تل په خپلو رغندو نیوکو، ګټورو مشورو او نظرونو سره زموږ ملګرتیا کړې چې له دوی څخه هم مننه کوو، خو یادونه کوو چې یادې شوې لاسته راوړنې زموږ لپاره د کار پای نه دی، بلکې تر بل هر وخت ډېر به د درنو هېوادوالو په چوپړ کې یو. موږ ژمن یو چې د هېواد مالي او بانکي سکتور د سیمې په کچه په تر ټولو غوره خدمتونو وړاندې کوونکي سکتور بدل کړو او په دې برخه کې به خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوو.

# تحولات در خدمات امور مالی اسلامی

خدمات امور مالی اسلامی در بر گیرنده سکتور بانکداری اسلامی، سکتور بازار سرمایه اسلامی و سکتور تکافل میباشد. ارزش مجموع صنعت امور مالی اسلامی در اخیر سال ۲۰۲۲ میلادی، ۳.۲۵ تریلیون دالر برآورد شده است که افزایش ۶.۲ فیصد را نسبت به سال قبل آن نشان میدهد. این مبلغ در سال ۲۰۲۱ بالغ بر ۳.۰۶ و در سال ۲۰۲۰ میلادی، ۲.۷۵ تریلیون افغانی بوده است.

از نگاه سکتوری، سهم دارایی های بانکداری اسلامی ۶۹.۳ فیصد (۲.۲۵ تریلیون دالر)، سهم بازار صکوک و صندوق های مالی اسلامی ۲۹.۸ فیصد (۹۶۶.۳ میلیارد دالر) و اعانه های سکتور تکافل ۰.۹ فیصد (۳۰ میلیارد دالر) بوده است. از لحاظ سکتوری رشد سکتور بانکداری اسلامی، بازار سرمایه اسلامی

۳.۲۵ تریلیون دالر
2022

6.2%

۳.۰۶ تریلیون دالر
2021

11.3%

۲.۷۵ تریلیون دالر
2020

**تکافل**

رشد (سال به سال) 16.1%
سهم صنعت خدمات مالی اسلامی 0.9%

**بازارهای سرمایوی اسلامی**

رشد (سال به سال) 6.1%
سهم صنعت خدمات مالی اسلامی 29.8%

**بانکداری اسلامی**

رشد (سال به سال) 6.9%
سهم صنعت خدمات مالی اسلامی 69.3%

(صکوک و صندوق های مالی) و سکتور تکافل در اخیر سال ۲۰۲۲ نسبت به ۲۰۲۱ و ۲۰۲۰ به ترتیب ۶.۹، ۶.۱ و ۱۶.۱ فیصد بوده است.

از نقطه نظر جغرافیا، سهم کشورهای خلیج ۵۳.۶ فیصد (۱.۷ تریلیون دالر) ،کشورهای جنوب شرق آسیا ۲۳.۳ فیصد (۷۵۷ میلیارد دالر)، کشورهای جنوب آسیا و شرق میانه ۱۸.۶ فیصد (۶۰۵ میلیارد دالر)، آفریقا ۱.۷ فیصد (۵۵.۲ میلیارد دالر) بوده و باقی آن سهم سایر مناطق میباشد.

**جدول ۱.۲.۱: صنعت خدمات مالی اسلامی بر اساس سکتور و منطقه (به میلیارد دالر امریکایی) سال ۲۰۲۲**

| منطقه | دارایی های بانکداری اسلامی | صکوک معوق | دارایی های صندوق های اسلامی | تکافل | مجموع | فیصدی سهم |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شورای همکاری خلیج | ۱۳۴۲.۹ | ۳۵۶.۶ | ۲۴.۱ | ۱۶.۷ | ۱۷۴۰.۴ | ۵۳.۶٪ |
| آسیای جنوب شرق | ۳۰۷.۲ | ۴۱۱.۴ | ۳۲.۸ | ۶.۰ | ۷۵۷.۴ | ۲۳.۳٪ |
| خاور میانه و جنوب آسیا | ۴۷۸.۳ | ۵۷.۸ | ۶۲.۹ | ۵.۹ | ۶۰۴.۹ | ۱۸.۶٪ |
| آفریقا | ۴۹.۶ | ۲.۹ | ۱.۹ | ۰.۸ | ۵۵.۲ | ۱.۷٪ |
| دیگر | ۷۱.۲ | ۱.۰ | ۱۴.۹ | ۰.۶ | ۸۴.۷ | ۲.۷٪ |
| مجموع | ۲۲۴۹.۲ | ۸۲۹.۷ | ۱۳۶.۶ | ۳۰.۰ | ۳۲۴۵.۵ | ۱۰۰.۰۰٪ |
| فیصدی سهم | ۶۹.۳٪ | ۲۵.۶٪ | ۴.۲٪ | ۰.۹٪ | ۱۰۰٪ | |

از قرار ۲۰۲۱ در سکتور بانکداری اسلامی، ۱۵ کشور (عربستان، سودان، ایران، برونئی دارالسلام، کویت، مالیزیا، قطر، بنگلادیش، جیبوتی، امارات، اردن، بحرین، پاکستان، فلسطین و عمان) که سهم بانکداری اسلامی آنها در مقایسه با کل سکتور بانکی داخلی شان بیشتر از ۱۵ فیصد بوده و دارای اهمیت سیستماتیک میباشند. این کشورها، ۹۱.۸ فیصد کل دارایی های سکتور بانکداری اسلامی، ۸۲.۷ فیصد صکوک را بخود اختصاص داده اند. در این میان سهم کشورهای عربستان، ایران، مالیزیا، امارات و بحرین و قطر بیشتر از هر کشور دیگری میباشد. ارزش سکتور بانکدارای اسلامی در عربستان سعودی بیشتر از ۶۰۰ میلیارد دالر معادل با ۳۰.۶ فیصد تمام سکتور بانکداری اسلامی میباشد.


عبدالفرید دلاوری

معاون تیم نظارتی گروپ الف

آمریت نظارت بانکداری وخدمات اسلامی

د افغانستان بانک

**گراف ۱.۲.۴: دارایی های بانکداری (به میلیارد دالر امریکایی) و فیصدی سهم بازار بانکداری اسلامی (در کشورهای مختلف (سال ۲۰۲۱)**




منابع:

1. Islamic Financial Services Industry Stability Report 2023: file:///C:/Users/fareed.delawari.CENTRALBANK/Downloads/Islamic%20Financial%20Services%20Industry%20Stability%20Report%202023_En.pdf
2. Islamic Financial Services Industry Stability Report 2022: file:///C:/Users/fareed.delawari.CENTRALBANK/Downloads/Islamic%20Financial%



# په اسلامي بانکوالۍ کې د شرعي اصولو د نه رعایتولو خطر او مدیریت

اسلامي بانکوالي، چې د اسلامي شریعت له اصولو او لارښوونو سره سم فعالیت کوي، د اسلامي اقتصادي نظام یوه مهمه برخه تشکیلوي. دا بانکوالي د دودیزې بانکوالي څخه توپیر لري او د سود (ربا) کارول پکې ممنوع دي او په همغو فعالیتونو کې بنکیلتیا او پانګونه پکې ممنوع ده چې غرر یا ناڅرګندتیا پکې شامله وي. اسلامي بانکوالي پر شرعي او د ټولنیز مسؤلیت رامنځته کوونکو مالي کړنو ته وده ورکولو باندې تمرکز کوي. د اسلامي بانکوالۍ اصلي مفهوم د ګټې او تاوان شریکول دي، چې بانک او مشتري دواړه پکې د پانګونې په خطرونو او زیان او ګټه کې شریک وي. دا اصول د شتمنیو مساوي ویش هڅوي او د بانک او مشتریانو ترمنځ د شراکت پر بنسټ چلند ته وده ورکوي. د اسلامي بانکوالۍ ابزارونه د اقتصادي فعالیتونو د آسانتیاوو لپاره جوړ شوي دي او د عدالت، روڼتیا، او ټولنیزې هوساینې اصولو په رڼا کې ترسره کیږي. اسلامي بانکوالي په نړیواله کچه د پام وړ شهرت ترلاسه کړی، او ډېری مالي ادارو د اشخاصو او سوداګریزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د شریعت سره مطابقت لرونکي محصولات او خدمات وړاندې کوي. د دودیزو

بانکونو په څېر، اسلامي بانکوالي هم په نړۍ کې د پرمختګ په لور ګامونه پورته کړل او د وخت په تېرېدو یې د اسلامي هېوادونو سربېره په غیر اسلامي هېوادونو کې هم فعالیتونه زیات شول. د اسلامي بانکوالي خدمتونو او محصولاتو په دودېدلو سره اسلامي بانکونو ته خطرونه هم متوجه شول او د دودیزې بانکوالۍ په څېر په دې بانکوالۍ کې هم د خطرونو مدیریت ته اړتیا ولیدل شوه. د دودیزې بانکوالۍ په څېر، په هغو خطرونو کې چې د اسلامي بانکوالي سکتور ورسره مخ کېدای شي د تمویلاتو خطر، د بازار خطر، عملیاتي خطر، د نغدینګۍ خطر، د مقرراتو خطر او د شرعي اصولو د نه مطابقت په برخه کې خطرات شامل دي. د نورو خطرونو سره سره، یو له مهمو ننګونو څخه چې اسلامي بانکونه ورسره مخ کېدای شي شرعي اصولو سره د نه مطابقت خطر دی. دا مقاله د شرعي اصولو د نه مطابقت په پایله کې د رامنځته کېدونکو خطرونو په نښه کولو، د خطرونو اغېزې او د اسلامي بانکونو لخوا د یادو خطراتو د مدیریت څرنګوالي په هکله بحث کوي.

**د شرعي اصولو د نه مطابقت خطر او ډولونه یې**

د شرعي اصولو د نه مطابقت خطر چې شرعي خطر هم ورته وایي، هغه احتمالي خطر ته اشاره کوي چې اسلامي مالي مؤسسې ورسره د شریعت د اصولو او قواعدو د نه مراعاتولو له امله مخ کېږي. په دې اصولو کې د سود (ربا) او غرر ممنوعیت او په منع شوو صنعتونو لکه نشه یي توکو، قمار، یا د حرامو حیواناتو غوښو څخه جوړو شوو محصولاتو کې پانګونه نه کول شامل دي. د دې اصولو په رعایتولو کې پاتې راتلل د اسلامي بانکونو لپاره مالي، عملیاتي، قانوني او د نیک شهرت سره تړلي خطرونه رامنځته کولای شي. د شرعي اصولو د نه مطابقت خطر د اسلامي مالي مؤسسو په بیلابیلو برخو کې رامنځته کېدای شي، د بېلګې په ډول اسلامي مالي موسسې خپلو پیرودونکو ته اسلامي محصولات او خدمات وړاندې کوي که چیرې دا محصولات له شرعي اصولو سره سمون ونلري، نو په دې برخه کې به د پام وړ خطر رامنځته کړي. د بېلګې په توګه، د پانګونې هغه ډول محصول معرفي کول چې د سود کارول یا منع شوي صنعتونه پکې شامل وي، د شرعي اصولو سره مطابقت نلري او دا یو ډول شرعي خطر ګڼل کېږي چې اسلامي بانکونه ورسره مخ کېدای شي.

همداراز، اسلامي بانکونه د شرعي خطراتو په برخه کې عملیاتي خطر سره هم مخ کېږي چې دا ډول خطرد مؤثرو پروسو او د کافي کنټرول نشتون څخه رامنځته کېږي چې د یادو مواردو د نشتون او یا په سمه توګه د نه پلي کولو په پایله کې د شرعي اصولو سره د نه مطابقت ستونزه رامنځته کولای شي. د شرعي اصولو، داخلي کړنلارو، لارښودونو په هکله ناپوهي او د کارکوونکو ناکافي روزنه هم د شرعي خطر رامنځته کېدو لامل کېدای شي. همدا ډول، اسلامي مالي مؤسسې او اسلامي بانکونه اړ دي چې د قانوني او مقرراتي اړتیاوو لخوا د ورکړل شوو صلاحیتونو په رڼا کې فعالیت وکړي. که چېرې اسلامي بانکونه د قانوني او مقرراتي اړتیاو او د د شرعي اصولو او مقرراتو په پلي کولو کې پاتې راشي، نو شرعي خطر سره مخ کېدای شي. د شرعي اصولو د مراعتولو سره سره د سیمه ایزو قوانینو اطاعت هم د اسلامي مالي موسسو لپاره یو پېچلې چاره ده چې

اسلامي بانکونه ورسره مخ کیدلای شي.

سربیره پر دې، د شرعي اصولو سره هر ډول نه مطابقت د اسلامي بانکونو او مالي مؤسسو شهرت ته زیان رسولای شي او ډیر امکان لري چې د یادو مؤسسو ذینفعان د بانک لخوا د اسلامي اصولو د نه مراعاتولو له امله پر یادو مؤسسو باور له لاسه ورکړي، چې په پایله کې یې اسلامي مؤسسې د احتمالي مالي زیانونو او آن د سوداګرۍ په ټپه دریدلو له خطر سره مخ کیدای شي.

**د شرعي اصولو د نه مطابقت خطر د اداره کولو لارې چارې**

د شرعي خطرونو د مدیریت او کمولو لپاره، اسلامي مالي موسسې د خینو ښتیزو لارو چارو او اقداماتو په کارولو سره هڅه کوي ترڅو یاد خطرونه په ګوته کړي او د تر ډیره بریده یې مخه ونیسي. په دې اقداماتو کې د شرعي څارنې پلاوي جوړول، د شرعي اصولو سره د مطابقت پیاوړې اډانې، او د کارکوونکو روزنه او پوهاوی شامل دي.

د اسلامي بانک شرعي بورډ یا پلاوی د اسلامي اقتصاد او شرعي علومو له پوهانو څخه تشکیلیږي او یاد پلاوي د بانک د چارو په برخه کې لارښوونې او د فعالیتونو څارنه کوي. همداراز، د یاد پلاوي غړي د بانک د مالي محصولاتو، عملیاتي چارو او د تړونلیکونو بیاکتنه او څارنه کوي او د اسلامي اصولو په رڼا کې یې تصویبوي. د شرعي بورډ رول د شرعي خطر په کمولو او د ادارې په اعتبار ساتلو کې خورا مهم وي. سربیره پر دې، اسلامي بانکونه د شرعي بورډ سره سره، د شرعي اصولو د رعایتولو د یقیني کولو لپاره د اطاعت هراړخیزې اډانې جوړوي. په دې کې اغیزناکې پالیسي، کړنلارې او د داخلي کنټرول ستراتیژۍ او سیستمونه شامل دي چې د بانکي عملیاتو په ټولو اړخونو کې د شرعي خطرونو پیژندلو، ارزولو او کمولو لپاره کارول کیږي. همدارنګه، دوامداره روزنیز او ښوونیز پروګرامونه د کارکوونکو د اړوندو شرعي اصولو د پوهاوي د لوړولو لپاره اړین دي. دا ډول پروګرامونه له دوی سره مرسته کوي چې په اغیزناکه توګه احتمالي شرعي خطرونه په نښه او مدیریت کړي.

د شرعي اصولو د نه مطابقت خطر مدیریت د اسلامي مالي ادارو لپاره د پام وړ اهمیت څخه برخمن دی. د شریعت د اصولو مراعاتول نه یوازې یوه مقرراتي اړتیا ده، بلکې پر اسلامي مالي مؤسسو د ذینفعانو د باور ساتلو او زیاتولو لپاره هم مهم دي. په فعاله توګه د شرعي خطرونو اداره کول، د شرعي اصولو د اطاعت لپاره قوي مقرراتي اډانې، د شرعي څارنې بورډونو او په دوامداره توګه د کارکوونکو روزنه کولای شي له بانکونو او اسلامي مالي مؤسسو سره مرسته وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې عملیات یې د اسلامي اقتصاد او مالي اصولو او شریعت سره سم پرمخ درومي.

لیکنه: سید خالد خالقیار
د خپرونو ارشاد آفیسر

سرچینې:

1. http://journals.miu.edu.af/article_100121.html
2. راه کار های مدیریت ریسک شریعت در شبکه بانکی https://www.ibena.ir/fa/news/18084
3. https://mbri.ac.ir/IslamicBanking/IslamicBanking Page? NewsID=314603



# افتتاح نمایندگی د افغانستان بانک در ارگون و دند پتان

دافغانستان بانک به منظور ارائه خدمات بهتر به شهروندان کشور، نمایندگی جدید خویش را پس از بندرغلام خان، در ارگون و دند پتان افتتاح کرد.

حین افتتاح نمایندگی های دند پتان و ارگون، محترم روح الله فیضی، مسئول بخش سیستم های د افغانستان بانک که سرپرستی هیئت اعزامی د افغانستان بانک را نیز بدوش داشت گفت که این نمایندگی ها بر اساس نیاز و درخواست تاجران ایجاد گردیده تا زمینه عرضه خدمات بهتر برای شهروندان مهیا گردد.

به گفته وی، این نمایندگی ها به تمامی سیستم های معیاری بین المللی مطابق با عصر مجهز بوده که با افتتاح آن، امور به موقع انجام گردیده و مشکلات تجار مرفوع میگردد.

به گفته محترم فیضی، تاجران دیگر نیازی به مراجعه به مرکز جهت تسویه مالیات و حساب های خویش ندارند، زیرا این تسهیلات در همین نمایندگی ها صورت میگیرد.

گفتنی است که در هنگام افتتاح نمایندگی های جدید، مسولین نمایندگی دندپتان و ارگون و شماری از مسولین ولایتی نیز حضور داشتندکه به نوبه خویش ضمن تبریکی افتتاح نمایندگی به مردم و تجار، تعهد به تلاش در جهت ارائه خدمات بهتر به شهروندان کشور نمودند.

قابل یاد آوریست که د افغانستان بانک هفته گذشته نمایندگی جدید خود را در بندر غلام خان افتتاح کرد و این بانک متعهد است تا سیستم های مجهز به معیارهای جهانی را در تمامی زمینه های مالی و بانکی برای شهروندان ایجاد نماید و از این طریق بهترین خدمات بانکی را ارائه دهد.



# ثبات امنیتی، زمینه ساز ثبات اقتصادی

**نویسنده زیرک ملیا**
فوتو ژورنالیست د افغانستان بانک

امنیت اجتماعی، فکری و سیاسی یگانه مسیر است که جامعه را به رشد اقتصادی و شکوفای می رساند. جوامع که اقتصاد شان پله های پیروزی را پشت سر گذاشته، یگانه راز موفقیت شان امنیت کشورهای شان بوده که در نتیجه آن توانسته اند اهداف بلند را جامه عمل پوشانند. بزرگ ترین کمپنی های صنعتی، تکنالوژیکی و تولیدی در کشور های است که امنیت شان سال های سال است که تامین بوده و زمینه رشد فکری، اقتصادی و فرهنگی برای شان محیا می باشد و این خود زمینه جهانی شدن اقتصاد را به میان آورده و مردم جهان را باهم نزدیک می سازد.

در فضای آرام زمینه هر نوع فعالیت اقتصادی مردم و دولت ها مساعد بوده و همه گان در تلاش می باشند تا ایده های شان را عملی نموده خود و دیگران را از

مزایای یک زندگی مرفه بهره مند سازند.
در جهان امروزی آن عده از کشور های که ثبات امنیتی، سیاسی و اقتصادی شان تامین است همه روزه تجارت شان در حال گسترش است سعی دارند تا کالاهای تجارتی خویش را به بازار های دنیا رسانیده، بازار های جهان را تسخیر نمایند که این خود باعث رشد اقتصاد و زمینه ساز اشتغال زایی برای افراد کشور ها میشود.
امروز اکثریت کشور ها برای مرفوع ساختن نیازمندی های شان از سرمایه گذاری های خارجی استقبال نموده و در تلاش جلب هر چه بیشتر آن می باشند.
سرمایه گذاری خارجی نیز مانند سرمایه گذاری های داخلی از اهمیت حیاتی برخوردار بوده زیرا زمینه را برای عواید بیشتر، آزادی تجارت بین کشور های ذینفع، ایجاد زیر ساخت ها، فرصت های کاری، استفاده از منابع طبیعی، بهتر شدن مالیات دولت و دیگر زمینه های فعالیت های کوچک اقتصادی میسر می سازد.

**امنیت و سرمایه گذاری:**

نبود امنیت و بی ثباتی سیاسی خطر بزرگی در راه سرمایه گذاری و جلب سرمایه گذاری های خارجی پنداشته می شود زیرا هیچ سرمایه گذار داخلی و خارجی علاقه نمی گیرد تا در سرزمین که ثبات امنیتی و سیاسی وجود نه داشته باشد، فعالیت های بزرگ و یا کوچک اقتصادی را راه اندازی نماید. یکی از مناطق پرتنش در سطح جهان، منطقه شرق میانه و شمال آفریقا است که به دلیل فضای پر تنش و درگیری های داخلی، میزان جذب سرمایه گذاری خارجی به شدت در این کشور ها پایین است که دراین میان، کشور لیبی با ۷۲۵ میلیون دالر سالانه در سال های ۲۰۱۲ الی ۲۰۱۵ در جذب سرمایه گذاری خارجی یکی از ضعیف ترین کشورهای جهان بوده. به همین ترتیب میزان سرمایه گذاری در کشور های ایران وعراق هم در سال های یاد شده به طور متوسط سه و چهار میلیارد دالر بوده در حال که در سال ۲۰۱۵ کشور چین ۲۴۹ ملیارد دالر، امریکا ۴۰۰ میلیارد دالر و اتحادیه اروپا ۴۲۰ میلیارد دالر سرمایه خارجی به خود جذب کرده اند. علت جذب سرمایه گذاری یاد شده نتیجه ثبات امنیتی و سیاسی کشور های یاد شده گفته شده است.
امنیت سرمایه گذاری یکی از مهم ترین شرایط برای سرمایه گذار می باشد زیرا سرمایه گذار را مطمین می سازد که ثمره زحمات و تلاش آنها مورد دستبرد و تعرض قرار نمی گیرد، البته این مسله تنها به دستبرد و تعرض افراد عادی ختم نه شده و گاهی دیده شده است که ادارات و تشکیلات دولتی به گونه از این سرمایه گذاری استفاده سو نموده، آنرا مورد تعرض و دست برد قرار داده اند که در این صورت، سرمایه گذار احساس خطر کرده و در تلاش انتقال سرمایه خویش به به کشور های دیگر می باشند.
برای جلب اعتماد سرمایه گذار دولت ها حقوق مالکیت سرمایه گذار را حفظ نموده، از وی پشتیبانی قضایی و قانونی می کند، تا سرمایه گذار احساس امنیت روحی و اقتصادی نموده و تجارت شان رونق گرفته، از سرمایه گذاری خود سود بهتر به دست بیاورد تا در اثر آن زمینه اشتغال برای افراد جامعه نیزمحیا شود و از سوی دیگر عواید دولت افزایش یابد.
کشور ما بدبختانه چهل سال جنگ شدید را متقبل شده که در این مدت به ندرت دیده شده که سرمایه گذاران خارجی علاقه به سرمایه گذاری در کشور نشان دهد. بلکی هزاران تن از سرمایه داران، ثروت خود را از کشور بیرون کرده و در کشورهای دیگر سرمایه گذاری نموده اند که تا اندازه حق با ایشان است، زیرا در سال های گذشته باوجو نهاد های امنیتی داخلی و خارجی، سرمایه داران وتجاران

کشور تحت فشار های روحی قرار داشته و عده شان از جانب افراد زورمند اختطاف و یا اخطار های متعدد دیده و تا اندازه، سرمایه شان در معرض خطر قرار گرفته و ناچار به ترک وطن پرداخته اند. تعداد دیگر که داخل وطن بودند نظر به شرایط حاکم در کشور به فساد آغشته شده و سرمایه شان آسیب دیده است. فساد مالی و اداری سبب پدیده های منفی متعدد می شود که ما در دهه های گذشته شاهد آن بودیم بطور مثال وارد کردن مواد نفتی بی کیفیت وعدم کنترول از جانب ادارات مسوول، ساخت هزاران کیلو متر سرک های کشور توسط شرکت های قراردادی به طور بی کیفیت و غیر معیاری و سبب تلف هزاران دالر سرمایه ملی شده است که در مدت کم دوباره تخریب و یا قسماً به ویرانه مبدل شده است. نقش امنیت را نیز نمی توان در آن نادیده گرفت زیرا مطالعات که باید در ساخت این پروژ ها صورت می گرفت در نتیجه نا امنی ها و فساد که در ادارات دولتی به میان آمده بود زمینه را برای کار بی کیفیت و توجه نکردن به پروژه های ملی در پی داشته و در نتیجه تخریب زود هنگام پروژه های یاد شده را در قبال داشت. نبود امنیت در کشور، یکی از دلایل عمده بود که کمپنی های بین المللی علاقه به سرمایه گذاری در کشورنکردند که نمونه های بارز آن عملی نه شدن پروژه تاپی، پروژه کاسا ۱۰۰۰، استخراج معادن و ده ها پروژه دیگر می باشد که باعث رونق اقتصادی افغانستان می شد اما متاسفانه عملی نشدند. با روی کار آمدن امارت اسلامی افغانستان وضعیت امنیتی کشور بهتر شد و امیدی برای شکوفایی کشور به وجود آمد و باوجود مشکلات زیاد، حکومت تسهیلات را برای سرمایه گذاران داخلی وخارجی فراهم نمود. امنیت سرتاسری در کشور، دسترسی به بازار های جهانی از طریق اتصال منطقه ای و همچنان از دید جغرافیایی منابعی سرشار طبیعی، نیروی جوان، ارزان و توانا، بازار مناسب کسب و کار نقاط مهم اند که سرمایه گذاران را باورمند به سرمایه گذاری می سازند. اما این اتمام کار نبوده، شفافیت و تخصص سالاری باید به گونه اصل مهم در قرار داد سرمایه گذاری های خارجی به دقت مد نظر گرفته شود. به گونه مثال زمانی که قرارداد استخراج نفت صورت می گیرد باید پروسه پروسس آن در داخل کشور صورت گیرد زیرا نفت خام با خود چندین نوع مواد ارزشمند دیگر (پلاستیک، گریس، قیر، واسلین،...) دارد. به همین ترتیب در قرارداد استخراج سرب توجه جدی نیاز است زیرا سرب هنگام تصفیه با خود نقره دارد. در سرمایه گذاری روی استخراج معادن طلا نیز باید توجه خاص صورت گیرد زیرا طلا نیز با خود شش منرال با ارزش دیگر دارد که هر کدام آن از جایگاه خاص در صنعت برخوردار است. از این رو قرارداد های بزرگ سرمایه گذاری ها باید به صورت تنها به قرارداد سپرده نشده دقت کامل و همه جانبه از طرف آگاهان امور مورد مطالعات فنی و مسلکی قرار گیرند و همچنان مرحله پروسس و تولید آن داخل کشور انجام یابد که از یک طرف زمینه کار برای مردم محیا و از جانب هم نظارت دقیق صورت گرفته می توانند، چون معادن غیر قابل تجدید است و بی توجهی در آن میتواند عواقب منفی با خود داشته باشد.





# صرفه جویی در آب های زیرزمینی

## با استفاده از سیستم آبیاری قطره ای

آب مهم ترین عامل زنده ماندن همه موجودات اعم از انسان ها، گیاهان و حیوانات است گاهی در شرایط سخت انسان ها یا حیوانات بدون غذا چند روز بیشتر زنده می مانند اما بدون آب دوام زیادی نخواهند آورد. آب بخش عمده از ساختار گیاهان حیوانات و انسان ها را تشکیل می دهد. بطورمعمول ۸۵ در صد وزن انسان از آب است، همچنان ۷۰ تا ۹۰ در صد از عناصر تشکیل دهنده گیاهان را نیز آب تشکیل داده است. آب به عنوان ماده حیاتی می تواند برای رفاه انسانها وهمه موجودات نیز مورد استفاده قرار گیرد، مانند ساختن بند های آب گردان در رودخانه ها وتأمین تولید برق مورد نیاز تحول در زندگی بشر به عبارت دیگر وابسته شدن به زمین و آب یعنی به محیط و همچنین آبیاری زراعت اشکال دیگر بهره برداری از آب و اهمیت بیشتر آن در سطوح مختلف زندگی می باشد. از یک طرف افزایش مصرف آب در نتیجه افزایش جمعیت قابل بحث است و از طرفی هم استفاده زیاد آن در زمینه های مختلف انسان را بیشتر به فکر تأمین آب مورد نیاز خود انداخته و یکی از راه های تأمین آب انتقال آن از یک مکان به مکان دیگر است.

باگذشت هرروز مسئله آب درسطح ملی و بین المللی درکشورهای پیشرفته وهمچنان کشورهای درحال توسعه به معضل بسیار

